Good

Date: ______ M T W T F S S

که

# خوشحال خان خټک

سوال: که د نظم که د نثر که د خط دے
په پښتو ژبه مې حق دے بے حسابه

(2021)

د دغه شعر په رڼا کښې د خوشحال بابا د علمي کارنامو جائزه واخلئ.

جواب: - چې کوشش که په اخلاص زه ئې ضامن يم
که کامران په خپل مراد نه شي سړی

په پښتو ادب کښې خوشحال خان خټک د ټولو نه همه ګير شخصيت دے. خوشحال بابا شاعر هم وو اديب هم، امير هم وو فقير هم، د توري ډال سره ئې هم دوستي وه او د چنګ و رباب سره ئې هم مينه وه، د کتابونو پاڼړي ئې هم ړنګول او د ښکار شوقي هم وو، د ژوند داسې اړخ نشته او نه د ادب داسې څانګه شته چې خوشحال خان په کښې پښتو ژبه د نورو ژبو سره سر په سر نه وي ودرولي، حقه داده چې په پښتو شعرو ادب د خوشحال بابا ډېره احسان دے دومره د بل چا نشته.

خوشحال خان بابا د نورالدين اکبر په زمانه کښې په سرائې اکوړه کښې د شهباز خان کره په کال ۱۰۲۲ هجري زيږېدلے وو.

خوشحال خان بابا د نورو په سوري کښې پيدا شو او د نورو په سوري کښې لوئ شو ځکه چې وائي:

له په خوب کښې په لاړه پرېوځي له کمه
چې د چه ځغوله زما د توري شرنګ دے
که په دور مې ګوري هغه زه يم
چې مې داغ په خاطر ايښې د خوږ زنګ دے

Date: ____________

M T W T F S S

په دې شعر کښې (خوشحال) رحمان بابا وائي چې چا
هم زما د توري آواز اوريدلې دې نو
حقه په خوب کښې هم د ويرې د وجې
په لرزه شي.

نو دې نه ثابته کيږي چې خوشحال بابا خومره بهادر انسان وو او خومره جنګجو مزاج ئې وو. خو دې سره سره خوشحال بابا د مطالعې سره هم ډېر شوق وو. د ده په قسمت ډېر لوئے عالم، شاعر او اديب جوړ بدل ليکلې شوې وو. د دې علم زيات تر ذاتي مطالعې، تجربې او مشاهدې نه حاصل شوې وو.

که د نظم که د نثر که د خط دے
په پښتو ژبه مې حق دے بے حسابه

خوشحال خان بابا په خپله شاعرۍ کښې رزم، بزم، اخلاق او تصوف، مدح او هجو، مثنوي، قصيده، غزل، رباعي، قطعات غرض هر صنف او هره موضوع خپله کړې ده. ~~[illegible]~~ ~~[illegible]~~ خوشحال بابا هر صنف کښې ښه کمال ښودلې دے.

ابنا علي دوست محمد خان کامل مومند په خپل کتاب (خوشحال خان خټک) کښې ليکي چې د خان عليين مقام شاعري جامع ده د انساني فکر شايد چرته داسې اړخ نه وي چې ده ئې په شاعرۍ کښې عکاسي نه وي کړې.

ښاغلي صديق الله رښتين په خپله مقاله (د خوشحال
پېژندګلو) کښې ليکي چې (خوشحال هيڅ ډول مضمون
نه دی پرېښی حقيقت ئې د مجاز سره ونښلاوه.
عشقي، بزمي، اخلاقي، وطني، ملي، فلسفيانه،
صوفيانه، حماسي، رزمي او نور هر راز
مطالب ئې د شعر په جامه کښې ونغښتل
د هر چا د ذوق د پاره ئې د خپل شعر باغ
و بڼ د رنګارنګ ګلو لو نه ډک کړو).

لوره چې تېره يې خو غوڅار لره کنه
او زلفې چې ولې ول شي نو خپل يار لره کنه
څه له راتلونکي چې په ښکلو نظر مه کړه
سترګې چې پيدا دي خو ديدار لره کنه

د ~~رحما~~ خوشحال بابا د شاعرۍ ښکاره اړخونه دري
دي، رضميه، بضميه او اخلاقي شاعري.

رضميه شاعري: مطلب د خوشحال بابا قامي او وطني
شاعري د هغه د ادبي اثارو يوه ډېره اهمه
او امتيازي برخه ده د هغه د کلام دا برخه
که يو خوا د پښتو او مغلو سياسي کشمکش
د تاريخ يو اهم باب دی نو بل خوا د پښتو
د تمدني او معاشرتي حالاتو بيان او د هغو
تنقيد او تبصره هم ده.
د مثال په توګه دا شعرونه.

هره چاره د پښتون تر مغل ښه ده
اتفاق ورسره نشته ډېر ارمان
که توفيق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

Date: ____________ M T W T F S S

د خوشحال خان بابا په شاعرۍ کښې د جذباتو
بې پناه زور، هیجان او طوفان او ډېر زیات
څرګند ښکاري ځکه خو که خوشحال خان بعضې
وخت پښتنو ته بدې ردې او کنځل هم وکړي
نو په سرې یې نه لیري ځکه یې دا تراخه
د پښتو د غرض ترخه خواږه هم لري-

✓ چې مغلو ته مې وتړله توره
درست پښتون ورته ښکاره کړه
اتفاق په پښتنو کښې پیدا نه شو
کنې مه به د مغل کریوان پاره کړه

رحمان خوشحال بابا د پښتنو د بې اتفاقۍ خبره کوي
چې که چېرې پښتنو کښې اتفاق وې نو
مه به د مغلو کریوان پاره کړې وې
یعنې مغلو ته به مې شکست ورکړې وې-

✓ یلو بل ځاے کښې لیکي
ما دولت در ته په توره وه ګټلي
ته زما د تورې نقشې اوره کړه

دے ته معلومېږي چې دے د پښتنو د ترقۍ
خوشحالۍ او خپلواکۍ ډېر ارماني وو-

✓ د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالے د زمانې خوشحال خټک یم

Date: ______ M T W T F S S

نه به زما غونډي بل ننګیالے راشي
نه به زما غونډي بل ځنګیالے راشي
خټک به پرېږده په درست جهان کښي
عجب که هسې رنګ پر ننګیالے راشي

د خوشحال خان خټک د قام او وطن سره د بې کچه مینه
په دې نه زیات بل څه ثبوت وي چې قام او وطن
اخلي او خپل ځوی ګورزوي او پر دعائي ورته
کوي لکه چې د لوی ځوي پاره کېږي وائي -

هسې ګور ته شه روان
لکه عاق دے د پدروحي
زمین دنیا دوالده خسران

څرنګه چې خوشحال خان یو جامع شاعر او ادیب دے
دغه رنګ د دے اخلاقي شاعري هم ډېره جامعه
ده او د اخلاقیاتو په هر اړخ ئې خیال او فکر
کړے دے -
خوشحال خان خټک په نزد هغه خوله هډو خوله نه
ده چې دروغ ترې راوځي لکه چې وائي -

چې دروغ تر خولې د پاسي کله خوله ده
چې رښتیا تر خولې وپاسي خوله هغه ده

د منت ورکول هم خلاف دے -
د منت دارو که مرهم پکار مې نه ده
که علاج لره مې راشي مسیحا هم
د خدائي د مخلوق نیکخواهي هم د خوش نصیبي
نښه ګڼلې -

چې د خالق تیکاو اهمي لري په زړه کښې
مبارک شه پادشاهي لري په زړه کښې

د عزت او خپل مقصد پوره کولو دپاره وائي

ترمطلوبه پورې شرط په رسیدو دی
که تمام لاره په وینو شي الوده

یعني که هر څومره سختي او مشکلات درته په لار کښې راشي خو خپل سفر به جاري ساتي ترڅو پورې چې خپل منزل مقصود ته ورسي۔

د خوشحال بابا د شاعرۍ لوبنکاره اړخ عشقیه شاعري هم ده۔ د عشقیه شاعرۍ لو خصوصیت دا دے چې د محبوب په ستاینه او د خپلې مینې په اظهار کښې هم خپل ځان نه غورزوي بلکه خپل لوړ او اوچت شخصیت څرګندوي لکه څنګه چې وائي

زه خوشحال کمزوری نه یم چې په ډار کړم
په ښکاره نعرې وهم چې خوله یې راکړه

یا به سر د خپل ورکا په وینو رنګ کړم
یا به ښکلي کړم د ستر کې ملوکې

دا دی نه معلومیږي چې عاشقۍ کښې بزدلي او کمزوري ته قوي شوی۔

خوشحال بابا ډېر زیات کتابونه هم لیکلي دي
چې یو څو یې دیوان، دستارنامه، فراق نامه
بازنامه، فضل نامه، سوات نامه، زنځیری
(د پښتو لوري په څنګه لیکه) بیاض، تاریخ، آئینه
فراق نامه، فرخنامه، طب نامه (ډاکټري)

نه دي حقیقت ته هر کړ انکار نه شي کېدی
چې د څلورو سوو کالو تېر پېړو نه پس
هم چې د ژوند په هر میدان کښې کاله
ترقي شوې ده تاریخ لا د خوشحال
بابا په شان جامع، همه ګیر او نابغه
شخصیت نه ته وړه پېړو مذهب دی که
سیاست، طب دي که ښکار، توره ده
که قلم، نظم دې که نثر لو هم د
خوشحال بابا ته نه دی پیدا تږ -

نه به زما غونډې بل ننګیالي را شي
نه به زما غونډې بل چنګیالي را شي
خلک له پره پېړه درست جهان کښې
عجب که هسي رنګ پرهنګیالي را شي